آریانا افغانستان آنلاین
ملی، سیاسی، علمی، ادبی او تاریخی
http://www.arianafghanistan.com

عبدالوکیل متین

۲۰۲۱/۰۵/۱٤

# د اختر ورځې

تیریږي رپ د سترګو کې کلونه ځي راځي
ماتم او ښادي نه غواړي وختونه ځي راځي
اختر مو مبارک شه وروڼو خویندو افغانانو
درشل ته د هر یو مې سلامونه ځي راځي
خالي یې غیږه نه شوه له تنکو ځوانانو
دې خاورې د احمد ته غیرتونه ځي راځي
د چا له پښه سره د حیا پوړنۍ کوز شو
د چا بې پتې غاړې ته هارونه ځي راځي
په اوښکو کې لمدې کړلی نکریزې کونډې ناوې
د وخت مبارکۍ ته سره لاسونه ځي راځي
اختر کې را نه ورک شولې زما ورکه لالیه
وستل ته دې همزولی سره ګلونه ځي راځي
اختر دې مبارک وی د ـغوی چې یې مزار ته
تسبیح د ترمو اوښکو د رودونو ځي راځي
شرنګاه د زولنو به اخر ټول کاندي را ویښ
کوڅو ته د ویدو ښې ځنځیرونه ځي راځي
ځی ټول په یو وحدت شو په خاطر د شهیدانو
بیا پریدی رقیبان چې پرې غمونه ځي راځي
هر ځل چې نسیم راشی معطر وی په عطرونو
وطن د متین زړه ته مې عطرونه ځي راځي



د انجنیر عبدالوکیل متین د نورو لیکنو لپاره، پر عکس کلیک وکړی


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com